



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !



معراج الدين « شمس »


د نشرنيته: 23 فبرورى 2026 ميلادى


# نن مې يار ليدلى نه دى!



له ډير غمه ليونى شوم زړه قرار ليدلى نه دى
زلمي په شان مې ښکلى بل کوم يار ليدلى نه دى

خاورو لاندې ويده شوى د ځواني ګل مې تالا شو
ما د ژوند په بڼ کې داسې خزان وار ليدلى نه دى

مور او پلار دې په ژړا دي آسمانونه هم ژړا کړي
ما تر دې حد درد او غم پخپل اختيار ليدلى نه دى

سترګې لارې څارې لا هم د قدمونو
پدې کلي کې مې بيا پل د يار ليدلى نه دى

چې خندا به يې رڼا کړه زمونږ کور او زمونږ زړونه
له هماغه ورځې وروروسته مې سهار ليدلى نه دى

ته مې دوست وې ته مې زوى وې زړه مې تا باندې ډاډه اوو
« شمس» نور ستا په شان اى زويه بل غمخوار ليدلى نه دى

***

معراج الدين « شمس »


www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلى